SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونی کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

پنځم کال نه څلویښتمه گڼه پرله پسې (۳۳٦) شنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د ربیع الثانی (۱۳)

د۱۳۷۹هـ ش کال د چنگاښ دمیاشتی(۲۵) د ۲۰۰۰میلادي کال د جولای (۱۵)

د امریکایي خبریال مایک هوبر د رپوټ له مخې :

ټولو خلکو په دې اعتراف کاوه چې اوس امنیت ښه دی

د لگیدلو بندیزونو له امله د افغـــانانو غـــربت ډیـر زیات شوی دی

که چیري خبریالان په افغانستان کی موجود حقایق ولیکی ښایی نړیـــوال بندیزونه له افـــغانستانه پورته شي

د امریکې د معتبري تلویزیوني شبکې سي؛ بي؛ اس؛ خبـریال مـایک هوبر چې په دې نږدې ورځو کې یې د افغـانســتان دوره کړې او بېـرته امریکا ته تللی له امریکا غږ راډیو سره په یوې مـرکې کې وویل چې : بو شي چې مـا په خپـل سفر کې د نیوونخیو له زده کوونکو نه نیولې بیا تر عادي خلکو او رسمي مامورینو پورې د زور او ځوان له خولې اوریدل دا و چې افغانـستان کې اوس امنیت دی.

امریکایي خبریال مایک هوبر وایي چې ما په قـصداً د طالبـانو بد رد ویل چې کـه څوک د هغوی نیمگړتیاوي را ته په گوته کړي خو ص ٤

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عـدل) ډیر نږدې دی تقوا(پرهیزگـــاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتي بگذارید.

از بودجه انکشافي ا.ا.ا :

سیزده ملیارد افغانی درعرصه باز سازی تأسیسات زراعتی مصرف گردیده است

از اثر تجاوز روســها به افغانستان ۱۱٤٤٥هزار هکتار زمین از کشت باز مانده است

در حدود ۲۰۰۰ هکتار ساحات جنگلات طبیعي و ۱/۵ ملیون جریب زمین جنگلات پسته خـــساره مند گردیده است

حدود سیزده ملیارد افغاني از بودجه انکشافي امارت اسلامي در عرصه ترمیم و باز سازي تعدادي از تاسیسات بخش زراعتي و مالداري کشور به مصرف رسیده است.

طوریکه محصولات زراعتي بخش عمده اقتصاد افغانستان را تشکیل میداد و قبل از وقوع کودتاي کمونیستي در کشور هفتاد فیصد صادرات افغانستان را محصولات زراعتي و مالداري احتوا مي نمود و هشتاد فیصد نفوس کشور به طور مستقیم و غیر مستقیم به زراعت و مالداري اشتغال داشتند اما بدبختانه در دوران رژیم کمونیستي و تجاوز روسها در افغانستان ۱۱٤٤٥ هزار هکتار زمین زراعتي از کشت بازمانده و در حدود دو هزار هکتار ساحات جنگلات طبیعي و حدود یکنیم ملیون جریب زمین جنگلات پسته کشور شدیداً خساره مند و از بین رفته و به گفته یك منبع مسوول وزارت زراعت و مالداري حدود شصت و پنج فیصد تزسیسات بزرگ تولیدي تکثیري تحقیقاتي تشخیصي و ستیشن هاي میکانیزه زراعتي و مالداري افغانستان با تمام وسایل ماشین آلات و ساختمانهاي آن در مرکز و ولایات کشور تا استقرار حاکمیت امارت اسلامي نابود گردیده است.

منبع میگوید بعد از اعاده صلح و ثبات مطمئن در کشور وزارت زراعت و مالداري بخاطر احیاي سستم زراعت و مالداري کشور در حدود امکانات مالي و تخنیکي فعالیت هاي موثر را انجام داده چنانچه با حفظ تمام داراني هاي باقیمانده توأم با تاسیسات تجهیزات و وسایل حمل و نقل آن از تخریبات بعدي کاملاً جلو گیري نموده و با مصرف حدود سیزده ملیارد افغاني بخش هاي مختلف ریاست هاي ترویج و خاکشناسي فارم هاي زراعتي و مالداري در مرکز و ولایت تعمیر ص ٤

تجار ملي کشور آماده تورید مواد اولیه هستند

کابل - باختر :

عده، از تجار ملي و با احساس کشور آماده گي شانرا در قسمت تورید مواد اولیه و مورد ضرورت هموطنان ابراز داشتند.

طي جلســه کــه در این تازه گي ها به اشتراك عده از تجار ملي و مسوولین ریاست اطاق تجارت ولایت کندهار در مقر آنریاست دایر گردید محترم مولوي فیض الله مشتاق رئیس اتاق تجارت ولایت کندهار در رابطه به سهولتهاي که از جانب امارت اسلامي براي تجار و سرمایه داران ملي فراهم گردیده توضیحات داده تاکید نمود که با در نظر داشت شرایط موجود اقتصادي اموال و اجناس مورد ضرورت را به اسرع وقت تورید نمایند.

سپس عده از تجار ملي طي ص ٤

پروســه عـودت مهاجرین بـررسي گـردید

هرات باختر :

پروسه عودت مهاجرین افغان از کشور ایران بوطن مورد غور و بررسي قرار گرفت .

محترم ملا خیر الله خیر خواه رئیس تنظیمه زون شمال غرب و والي ولایت هرات اخیراً طي دیدار با محترم مولوي ص ٤

حملات وحشیانه روسها بالاي چیچن ادامه دارد

حملات نظامیان متجاوز روسیه در جنوب جمهوري چیچن ادامه دارند.

به گفته منابع خبري روسیه طیارات جنگي آنکشور ظرف بیست و چهار ساعت گذشته چهل مرتبه بر فراز مناطق ویدینو وارگون جمهوري چیچن پرواز نموده و مناطق مختلف آن جمهوري را هدف حمله قرار دادند. ص ٤

فابریکه نساجي نخي قندهار مجدداً احیا میگردد

قندهار - باختر :

یك منبع وزارت معادن و صنایع میگوید فابریکه نساجي نخي قندهار که از بیست سال به اینطرف فعالیت تولیدي آن متوقف است در ظرف ده ماه آینده احیا و به بهره برداري سپرده میشود فابریکه متذکره به ص ٤

له ٥ کلن ځنډ وروسته :

د گردیز راډیو بیا فعاله شوې

د گردیز د شریعت غږ راډیو د دیني ذوقي اقتصادي اموزشي او خبري پروگرامونو په خپرولو سره د عامه ذهنونو په روښانولو لاس پورې کړې او په هیـواد کې اوسني واقعیتونه خپروي او د افغانستان د ٤ مخ

ایدز در کشور هاي روبه انکشاف درحال افزایش است

بر اساس نتایج یك بررسي جدید مرض ساري ایدز ممکن است در کشور هاي رو به انکشاف جهان موجب بي ثباتي چندین ساله شده و اطفال را مانند زمان جنگ یتیم و بي سرپرست سازد.

نتایج این بررسي جدید که توسط حکومت ایالات ص ٤

در دره بنگي ولایت تخار :

درگیریهاي شدید بین مخـــالفین رخداد

درگیریهاي شدید میان قوماندانان مخـــالفین در دره بنگي ولایت تخار رخداده است که در اثر آن تعدادي از طرفین زخمي و یا هلاك گردیده اند.

آژانس اطلاعاتي باختر به قول از منابع موثق گزارش میدهد : در گیریهاي تازه ص ٤

د بریښنا موسسې عمومي رئیس محترم مولوي محمد خان حقاني د شریعت اوونیزې له خبریال سره په مرکه کې:

زمونږ پراختیایي پلانونه له مالي امکاناتو سره سم پر مخ روان دي

زمونږ په هیواد کې ډیرې داسې سیمې شته چې د مایکرو هایدرو پاور دستگاوې پکې نصب کیدلی شي همدا اوس د کابل ښار د ستیشنونو او شبکو د تنظیمولو په کار ۲ مخ

څـــلور تنه شوکـــماران ونیــــول شول

غزني - باختر :

څلور تنه شوکماران د ناور ولسوالي او دغزني ولایت د لارې په اوږدو کې لاس په لاس ونیول شول.

د غزني ولایت د استخباراتو ریاست د ویجړو منسوبینو د ٤ مخ

ایالات متحده امریکا و ویتنام روي یك توافق تجارتي دست یافتند

ایالات متحده امریکا و ویتنام به یك توافق تجارتي دست یافته که راه را براي معاملات تجارتي بین دو ص ٤

شاغلي اوتار سنگه نماینده هموطنان اهل هنود و سکه ما در شهر کابل در مصاحبه با خبرنگار هفته نامه شریعت :

از دو صد هزار اهل هنود و سکهـ حـالا دو هـزار باقي مانده ایم

بدون کدام مشکل میتوانیم در درمسال هاي موجود مراسم مذهبي خود را اجرا نمائیم

موضعگیري ا.ا.ا در قبال اقلیت هاي ساکن در کشور قویاً بر مبناي شریعت غراي محمدي «ص» استوار بوده و مثل سایر هموطنان ایشان نیز از امنیت کامل برخوردار اند.

خبرنگار ما به تایید این پالیسي به درمسال هموطنان اهل هنود و سکه ما در کارته پروان سري زده و گفت و شنودي را با شاغلي اوتار سنگ نماینده اهل هنود و سکه انجام داده است که خوانش آن براي شما دوستان خالي از دلچسپي نخواهد بود.

در آغاز شاغلي اوتار سنگه چنین اظهـــار داشــتند : در افغـانســتان اقـوام و ملیت هاي مختلف اعم از پشتون، تاجك، ازبك، هزاره، بلوچ، ترکمن و ... زندگي میکنند در زمره آنها یکي هم اهل هنود و سکه است. ما ۱۲۰۰ سال سابقه تاریخي در افغانستان داریم و در هر جایي که باشیم بنام افغان یاد میشویم، بسیاري از افغانها تا هنوز این را نمیدانند که ما افغان هستیم، آنها فکر میکنند که ما هندوستاني ها هستیم و در افغانستان کار و تجارت میکنیم.

وي افزود : ما در قبال انجام مراسم مذهبي و عنعنوي خویش از ا.ا.ا سپاسگزار هستیم، ما در اداي این مراسم کاملاً آزاد میباشیم به گونه، که امنیت مال و جان ما امروز تامین میباشد فکر نمیکنیم که در ص ۲

سیزدهمین کـانگرس بین المللي مبارزه علیه ایدز در افریقا پایان یافت

سیزدهمین کانگرس بین المللي مبارزه علیه بیماري مهلك و ساري ایدز دیروز با پیام نلسن ماندیلا رئیس جمهور اسبق افریقاي جنوبي و شخصیت بین المللي حقوق بشر پایان یافت.

ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د روزنیزو سیمینارونو د ارزښت په اړه :

د اسلامي امارت چارواکو د هیواد د بیا رغونې او ودانۍ په هره څانگه کې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړې دي او تل یې دا هڅه کړې چې په لاس لرلي وسایل که څه هم ډیر نیمگړې وي په کار واچوي او په اړوندو څانگو کې لومړنۍ اړتیا وې پوره کړي خو د تیرو دوولسیزو په جگړو کې چې زمونږ تعلیمي نظام ته کوم تاوانونه رسیدلي هغه له هر څه زیات دي ، مثلاً د هیواد زیاتره تعلیمي مرکزونه، پوهنتونونه، ۲ مخ

غاصبو صهیونستانو د غزې د ناوې د تخلیه کولو ژمنه کړې

د یوه اصلي عـربي اوسیـدونکي اسرائیلي قانون پوه د خبر له مخې صهیونست رژیم موافقه کړیده چې له فلسطینیانو سره د سولې د یوه ورروستي تړون د یوې برخې په توگه د غزې د ناوې د یهودیانو استوگنې ټول ځایونه تش کړي .

٤ مخ

شورشیان فیجي سلاحهاي خــود را بر زمـین نــهادند

شورشیان مسلح مجمع الجزایر فیجي یکروز پس از پایان مسالمت آمیز و بدون خونریزي حادثه گروگان گیري در آن جزایر سلاح هاي خود را تسلیم داده اند.

شورشیان مذکور تعدادي از گروگانان خود را طي هفته گذشته آزاد ساخته بودند.

تسلیم دادن سلاحها یکي از شرط هاي مـهم براي عـفـو آدم ربایان در پارلمان فیجي بود.

شورشیان طرفدار جورج سپایت تاجر مشهور فیجي روز پنجشنبه سه سیاستمدار را که از اواسط ماه مي سال جاري در پارلمان شهر سووا پایتخت مجمع الجزایر فیجي در اسارت نگهداشته بودند آزاد ساختند.

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوي گڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱ - توزیع او شکایات : ٦٢٨٥٩
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتي برخه

دمدرسی، کتابتونونه او مطبعی د جګړو په اور سوی ، وران شوی او له کاره غورځیدلی دی همدارنګه مسلکی پوهان او د روزنی متخصصین چی څوک له مرګ او زندانونو پاتی وو، له هیواده په وتلو اړ ویستل شول چی په نتیجه کی مونږ له سختی نیمګړتیا سره مخامخ شولو د اتلسو کلو جګړه ځپلی هیواد په یو ډول درواني کورنی جګړی سره سره په همدی ښه وران ویجاړ اسلامی امارت ته په میراث راپاتی دی او په همدغو ورانو کنډوالو کی د امارت مسوولین د ودانی اصلی ښستونه لټوی او بیا یی د اباذی چاری په مخ بیایی خو په دی ټولو نیمګړتیا وو کی مهمه خبره دا ده چی مسلکی کار پوهان له سره جوړول او تربیه کول لکه څومره چی ډیر ګران کار دی په هماغه اندازه اوږده مهال ته هم اړتیا لری او همدی ضرورت ته په پاملرنه چارواکو تل په بیلا بیلو ځانګو کی د یو شمیر روزنیزو سیمینارونو تا بیا کړی او اړوندو موظفینو ته یی د خپلو مکلفیتونو په ورښودلو او د هغوی د مسلکی پوهی په لوړولو کی ښه اغیزمن ګامونه اخیستی اوښی پایلی یی درلودلی دی، په دی لړ کی د څه لنډ مهال نه را په دی خوا یو زیات شمیر دا ډول سیمینارونه جوړ شوی چی د بیلګی په ډول د کرنی اړوند سیمینار، د ښوونی او روزنی په هکله د ولایاتو د مسؤلینو په ګډون څو ورځنی سیمینار او په راتلونکو دوو دری ورځو کی د اطلاعاتو او کلتور وزارت د مربوطو ځانګو پنځه ورځنی سیمینار یاد ولای شو، په همدی ډول په بیلا بیلو ولایاتو کی هم د مختلفو ځانګو ډیر روزنیز سیمینارونه جوړ شوی او ډیر مثبت نتایج یی لاس ته راوړی دی حقیقت دا دی چی د اسلامی امارت مسؤلینو د خپلو هیوادوالو اؤ وران ویجاړ هیواد د ودانی او سمسورتیا په لاره کی د هر ډول ستونزو منلو ته ځانونه چمتو کړی او دخلکو خدمت یی د غاړی پور او کلکه ذمه واری ګڼلی ده او له همدی امله هڅه کوی چی کارونه مستحقو او با اهلیته کسانو ته وسپاری او په ښه ډول د ولس د خدمت او هیواد دودانی چاری پر مخ بوځی او په دی کی هیڅ شک نشته چی زمونږ وختونه ډیر قیمتی او یوه شیبه غفلت مو ډیر زیات تاوانی کولای شی ، مونږ اوس د ښو تجربه کارو او ماهرو مسؤلینو په لاس جدی فعالیت او ګړندی پر مختګ ته اړتیا لرو، تر څو په ډیره چټکی سره ځان او هیواد وال د موجوده ستونزمنو حالاتو څخه وباسو او ملک د ترقی او سوکالی په لار روان کړو په دی لړ کی یوه بله مهمه خبره چی د روزنیزو سیمینارونو په څنګ کی زمونږ هیواد او هیوادوالو ته ډیر ارزښت لری، له هیواده بهر د یو شمیر مسلکی ماهرینو مسؤلیت دی چی باید د امارت بلنی ته هر کلی ووایی او خپلی ذمه واری تر سره کړی او دا ځکه چی ټول افغان کار پوهان د هیواد او هیواد والو پورووړی دی، نو ښایی چی د بیارغونی په چارو کی له اسلامی امارت سره مرسته وکړی او له هیواده بهر بوختیدل دومره مهم ونه ګڼی ، اسلامی امارت به هم لکه چی ددغو روزنیزو سیمینارونو په جوړولو کی ډیری ستونزی ګالی، هیواد ته د راستنیدونکو مسلکی کارپوهانو عزت او درناوی او تر خپلی وسی به د هغوی د مشکلاتو د حل هڅه وکړی خو دا هم باید ووایو چی ټول افغانان باید د هیواد روانه وضع په نظر کی ونیسی او لکه چی ټول ملت په ستونزو او کړاوو اخته دی، همداسی دی هر څوک په ځان ومنی او بیا دی خپل لوړ ارمانونه تعقیب کړی.

غربی نړی د خپلی عصری ټکنالوژۍ په زور دومره خپرندویه او تبلیغاتی وسایل پیدا کړی چی که وغواړی ځینی کوچنی هیوادونه له منځه یوسی نو له جنګی وسایلو، (توپ او جهت الوتکو) پرته یی هسی هم د پروپاګند او دروا غجنو تبلیغاتو په باد الوزولای او په سپکو سپکولای شی. دا خبره زمونږ ګران هیواد سره د لویدیځ په معامله کی ښیخی په ډاګه او څرګنده معلومه شوی ده چی څنګه له یوی خوا زمونږ کمزوری تبلیغاتی وسایل او له بلی خوا لویدیځی ناری سوری او د زرګونو راډیو ګانو، اخبارونو او نورو خپرندویه سرچینو په واسطه د افغانستان اسلامی امارت ګردو نړی والو ته پړاو ملامت معرفی شوی او له یوی مخی د ټولو په خوله کی همدا څو ټکی تکرارېږی چی افغانان د مخدره موادو کار وبار کوی، تروریستان روزی او بشری حقوق تر پښو لاندی کوی ، د دوی د همدی تبلیغاتی شور او ځوګ په منځ منځ کی به زمونږ بیچاره مظلوم ملت خبره څوک واوری چی هره ورځ ناری وهو او نړیوال رابلو چی که لږ څه مرسته وکړی نو مونږ به ډیر زر د کوکنارو کروندی له منځه یوسو ځکه تاسو خو ولیدل چی روسانو د خپل برغل

آیا امریکا په افغانستان کی د نشه یی توکو ختمول غواړی ؟

فاروق

په وخت کی زمونږ کرونده او د اوبه خور نظام ټول ډړی وړی کړ، کروندګر د پولی ټک ته کیناستل او ملی اقتصاد بالکل ړنګ شو نو په داسی حالاتو کی چی نه چا خپله شتمنی راپریښودله اونه څوک نوره مرسته کوی، بلکی لا اقتصادی بندیزونه هم را باندی لګوی، اوس نو مونږ دا ډیرش ملیونه وږی له لوږی مړه کړو او که د کوکنارو د کرنی اجازه ورکړو ؟

سره له دی چی نړی وال په رڼو سترګو زمونږ بده ورځ وینی او په سلګونو ځله مو دا خبری هر چا ته په جار سره تکرار کړی چی مونږ به په دی هکله ښه مرسته وکړو او په عملی ډول مو ورته وښودل چی د هیروئینو ټولی کارخانی مو له منځه یوړی ، په سلګونو کیلو ګرامه اپیم او چرس د بهرنیو دیپلوماتانو په وړاندی وسوځول شول او په ننګرهار ، هلمند، کندهار، لوګر او پکتیا کی په زرګونو جریبه د کوکنارو او چرسو ولاړی کروندی له منځه یوړل شوی چی په مجموع کی تر ډیریمی برخی پوری د نشه یی توکو پیداوار کم کړی شو خو بیا هم د امریکی له خوا کوم مثبت غبرګون ونه ښودل شو اونه څه مالی اقتصادی مرستی وشوی نو له همدی کبله وبلای شو چی لویدیځ هیڅکله هم نه غواړی په دی هکله څه پرمختګ وشی او په افغانستان کی د مخدره موادو د کرنی مخنیوی وشی په دی باره کی لا د پام وړ ټکی دا هم دی چی له افغانستانه بهر د یوه دفاعی کمربند جوړولو په خاطر ایران، پاکستان، تاجکستان او ازبکستان سره د ډیرو مالی مرستو وعدی هم شوی او د امریکی او ملګرو ملتو له خوا پوره دلچسپی ورسره ښکاره شوی ده، سره له دی چی له کرنی وروسته بیا د داسی اقداماتو اغیزی ډیری کمی وی خو بیا هم لګیا دی او نوموړی هیوادونه په پریمانه مالی مرستو نازوی له بلی خوا د ټولی نړی روان دود دستور او د ملګرو ملتو تګلاره داسی ده چی ټولو هغو هیوادو سره مرستی کوی چی د اقتصادی ستونزو له لاسه یی د مخدراتو کرنی ته لاس اچولی دی مثلاً دا پنځه ورځی مخکی امریکی اعلان وکړ چی د نشه یی توکو د مخنیوی لپاره به «کولمبیا» سره د زرو ملیونو ډالرو مرسته کوی. خو له همدی سره جوخت بیا په افغانستان کی یوه روپۍ هم نه لګوی !!

د همدغو دلایلو په اساس ویلای شو چی اصلاً امریکا ، ملګری ملتونه او نور لویدیځ هیوادونه هیڅکله نه غواړی چی په افغانستان کی د مخدراتو د مخنیوی په هکله څه مثبت پرمختګ وشی، بلکی دوی غواړی چی ددی مجاهد، میړنی او خپلواک ملت د کړولو او ځورولو لپاره تل یوه پلمه بهانه د دوی په لاس کی وی او له همدی لاری یی د دبـاو لاندی راولی تر څو وکولای شی له خپل اسلامی خپلواک نظام څخه په تیریدلو یی مجبور او د خپلو شومو اهدافو د پلی کولو لپاره لاره هواره کړی.

لنډه دا چی د اقتصادی بندیزونو او د اسلامی امارت پر خلاف د بېځو او ناروا تبلیغاتو ددی روان توپان موخه هم دا ده چی ثابته کړی اسلامی نظام د ټولنی په تنظیم او سوکالی کی ناکام او نیمګړی دی نو په کار ده چی د لویدیځ پالی دیموکراسی او یو سیکولر نظام لپاره کار وشی، کوم چی د اسلامی نړی په ډیرو هیوادو یی همدا اوس ورتیلی او چارواکی یی وړباندی فخر کوي خو په حقیقت کي نوموړو نظامونو د مسلمانانو د مرېښتوب، خجالت او شرمند ګی نه پرته نور هیڅ هم نه دی تر سره کړی .

هیواد ته د راستنیدونکو مهاجرو یوه لویه ستونزه

غلام محمد

په افغانستان باندی د روسی برغل په مهال نږدی شپږ ملیونه خلک ایران، پاکستان او ځینی نورو هیوادو ته په کډه کولو مجبور شول خو له دی جملی یو زیات شمیر د کمونیستی رژیم له نسکوریدو وروسته بیرته خپلو کورو ته راستانه او یو شمیر لا څه نورو لویدیځو هیوادو ته ورسیدل خو تقریباً دری ، دری نیم ملیونه مهاجر اوس هم د ایران او پاکستان په مهاجر کیمپونو کی میشته دی او زیاتره یی د ډیر کړاو او زحمت پردیسی شپی تیروی که څه هم د اسلامی امارت د قیام نه روسته چی تر ډیره حده په هیواد کی امنیت راغلی ، د مهاجرو د راستنیدا بهیر ګړندی شوی، خو بیا هم د بی وزلی او نړی والو مرستو د کمیدلو په وجه د مهاجرو د راتګ لړی له ستونزو سره مخ ده دا ستونزی که څه هم له بیلا بیلو خواوو را پیښی دی خو د یوی څیړنی سره سم څرګنده شوی چی په پاکستان کی د پرتوګډوالو تقریباً ۷۰٪ برخه د هغو غرنیو سیمو خلک دی چی د روسی برغل په لومړیو کلو کی مهاجر شوی، اوس یی کورونه بالکل وران کنډواله او په خپلو غرنیو تنګو سیمو کی د بیا ودانولو چاری ډیری ورته ګرانی دی، دوی د کروندی ډیری کمی ځمکی لری چی هیڅکله یی هم د کلنی لګښت لپاره کفایت نه کوی او نه په خپلو کلیو کی د کوم بل روزګار ښندو ښت وینی د څیړنی مطابق دا شمیر خلک د افغانستان د اسلامی امارت د اصلاحاتو سره هم څه مخالفت نه لری بلکی په کلکه یی پلویان دی خو یوازی او یوازی همدغو مشکلاتو را ایسار کړی دی دغه شمیر مهاجرین اوس په دی لټه کی دی چی د اسلامی امارت چارواکو سره خپلی ستونزی مطرح او په حل کی یی تری مرسته وغواړی مهاجرین په دی خبره ټینګار کوی چی باید دوی ته د هیواد په نورو برخو کی چیرته چی پراخ خاورین ډاګونه موقعیت لری، یو څه اندازه ځمکه ورکړل شی چی دوی یی په خپل لګښت ودان او د اوبو ژور کوهیان پکی وباسی، په دی ډول به دوی له خپلو هغو تنګو غرنیو کلیو هم مستغنی شی چی په یوه ډیره، یو ګز ځای او یو چم خاوره یی کړی کال جنګ جګړی وی او له بلی خوا به هر یو د ځانته کلا او خپلی باغچی څښتن هم شی چی دا بیا په مجموع کی د هیواد د بیا ودانولو او سمسورتیا لپاره لوی ګام دی په دی ډول به زمونږ په هیواد کی د غلو تولید او د خوراکی شیانو د پیداوار کچه زیاته شی. یو شمیر خلکو ته به روزګار پیدا شی او تر ټولو مهمه دا چی یو زیات شمیر مهاجر به بیرته په خپل کور ښسیا او د پردیو له متازی وژغورل شی په دی هکله یو شمیر سپین ګیرو او مشرانو د کرنی وزارت او نورو چارواکو سره هم څه خبری کړی دی خو هغوی وایی چی داسی پروګرامونو ته به د مهاجرو څه وس ونه رسیږی ، مګر حقیقت دا دی چی مونږ په رڼو سترګو ورته ګورو چی شته من خلک لګیا دی او وچ ډاګونه په ډیره ګرانه بیه اخلی او په همدی ډول یی آبادوی نو که سل په سلو کی نوموړی پروګرام عملی او بریالی نه شی، لس په سلو کی خو به نتیجه ورکوی نو په کار ده چی د اسلامی امارت چارواکی دغی ستونزی ته په ښه ډول پاملرنه وکړی او د مهاجرو د راستنیدو په لار کی دا لوی خنډ له منځه یوسی.

از دو صد هزار اهل ...

... ۱۲۰۰ سال سابقه تاریخي ما در افغانستان بوده باشد.

شاغلي اوتار سنگهـ اضافه کرد : در افغانستان در کنار مساجد اسلامي ۳۰ درمسال مذهبي نیز وجود دارد که سالانه روز هاي مذهبي ویساك و جشن بابه نانك با مراسم شانداري در آنها از جانب برادران اهل هنود و سکهـ تجلیل میگردد.

شاغلي اوتار سنگ در برابر یك پرسش خبرنگار ما گفتند : ما به صفت یك افغان تعزیراتي را که امروز ملل متحد بالاي ا.ا.ا وضع نموده است تقبیح میکنیم . این تعزیرات در حقیقت بالاي ملت بیچاره و مستضعف افغان وضع گردیده نه بالاي ا.ا.ا و از دیدگاه بشر دوستي و احترام به حقوق بشر این یك عمل غیر انساني بوده و صریحاً تخطي از حقوق بشر تلقي میگردد.

وي در برابر یك پرسش دیگر چنین اظهار داشت : تا جائیکه کمك هاي بشري و غذایي ملل متحد و سایر موسسات خیریه بین المللي را در کابل تعقیب نموده ایم، از دیدگاه ما غیر عادلانه صورت گرفته است چرا که ما هیچوقت از این مساعدت ها مستفید نبوده ایم فعلاً ما در سطح شهر کابل ۵۰ فامیل زندگي مینمائیم که سخت نیازمند کمك میباشیم، اما تا امروز کسي خانه و یا درمسال ما را دق الباب نکرد که بگوید شما هم افغان هستید چه مشکل دارید ؟

به عنوان آخرین پاسخ شاغلي اوتار سنگهـ گفتند : در سطح افغانستان ما از دو صد هزار اهل هنود و سکهـ حالا صرف دو هزار باقي مانده ایم به همه افغانها معلوم است که ۹۸٪ باشندگان اهل هنود و سکهـ از اثر ظلم و جنایت حکومت کمونیست ها و به تعقیب آن حکومت پنج ساله رباني مجبور به ترك وطن گردیدند که فعلاً اکثریت آنها در هندوستان و پاکستان در حالت بد اقتصادي و اجتماعي بسر میبرند : هکذا ارتباطات ما با آنها تامین است، با اطمینان کامل گفته میتوانیم که بیشتر از ۳۰۰۰۰ این پناه گزینان از هندوستان به ما صد فیصد اطمینان داده اند که آماده هستند تا در همین روز هاي نزدیك دو باره به افغانستان عودت نمایند.

مهربان

د سکندریې د حاکم دې کور ودان وي

ملا محمد اصغر عاکف

حارث بن همام وایي: زه مې د خپلې ځوانۍ ځینو غوښتنو او هوسونو له ناستي را ولاړې ته کړم او پیسو گټلو ته یې د فرغانې (سمرقند) او غانې (سودان) تر منځ د اوږدې لارې سفر کولو ته وهڅولم. داسې لاره او سفر چې په خورو، وروسپیدنو به گډېدم او د خطرونو په دښتو او گرنگونو به ورتېرېدم، خو د ادب پوهانو د خولې هغه خبره مې هم په زړه ښه پرته وه چې که کوم شاعر او ادیب سړی چېرې بل وطن ته د سفر ملا تړي نو دا به یاد لري چې په کوم ښار کې اړوي نو لومړی دې د هغه ښار د حاکم نغرې ته ځان رسوي او د هغه په تلېر دې کېني، تر څو یې د ناخوالو په مهال زړه ډاډه او ملایې ښه ټینگه وي او بل دا چې د چارواکو له ازاره به هم بېغمه وي. ما هم د همغوی د غه ادب، د ځان لارښود او د خپلو گټو او مصلحتونو واکمن کړ، په نیلي سپور شوم او په هر ښار به چې ورگډ شوم له هر څه د مخه به مې د هغه ښار حاکم ته لاره وربرابره کړه او په خپلو خوږو خبرو او شعرونو به مې د حاکم په زړه کې ځای ونیو او د ملگرو په کتار کې به یې ودرولم لنډه دا چې یوه ورځ د سکندریې له حاکم سره ناست وم د هغه مخې ته د صدقو او خیراتونو د روپیو هغه کوټه پرته وه چې دا مهال یې په مسکینانو ویشله چې کاته مې یوه په عمر پخه زېړه وره ښځه او یو بوډا سړی دواړه کارجن راغلل او د حاکم مخې ته ودرېدل. ښځې وار پرومبې کړ او حاکم ته یې د عرض په ترځ کې وویل: حاکم صاحب ته دې خدای «ج» ددې وس او توان ورکړی چې زموږ دواړو (مدعي او مدعی علیه) تر منځ پریکړه وکړې او پر ته پړ ووایې ای حاکمه ماته لږ غوږ شه او بیان مې واوره! زه د یوې پاک لمنې او شریفې او دحیا په گاڼه ښایسته ښځې لور یم او پلار مې په سیمه کې د دیانت، رښتینولي، اخلاص او مېلمه پالنې په غوره صفتونو خلک پېژني، ماماخیل او کاکاخیل مې دواړه خواوې په قوم کې په ښو یادېږي. زه ددغې کورنۍ په پاک غولي زېږېدلې او ستره شوې یم او زما ځانگړې صفتونه دا دي چې کله زه په ښو او بدو پوهېدلې یم چاته مې نه بدویلي او نه بد کتلي، پنځه وخته لمونځ مې په ښه شان کړی، د مور، پلار او خپلوانو درناوی مې کړی او همدا لامل و چې زما د کوژدن رېبارانو او ډلې ډلې مرکچیانو به مې د پلار په حجره کې پلټرې وهلې وی خو څرنگه چې زما پلار د کراري او راڅښتن وڅاته یې رټ ځواب نه ورکاوه خو کله به یې چې ډېر وخوراوه نو په ورو به یې ورته ویل: مالوره کړې چې د خپلې لور کوژدن له یو ښه ادیب ځخه پرته له بل چا سره نه کووم او نه به بل څوک زوم کړم. مگر دا به زما مظلومې د ازل برخه او د قلم کرښه وه چې په برخه مې دغه مکرجن ورسېده ده د قوم او پرگنې مشرانو یوه ورځ زما سپین ږیری پلار په قسمو تک شین کړ چې دا دې ستا شرط پوره شو. دا ځوان ښه ادیب او شاعر دی د کسب او هنر خاوند دی نور نو څه وایې؟ کاروته د خدای «ج» وو زما یې له ده سره کوژدن وکړ څه موده وروسته مې پلار په ښه کور (جهېز) درنه ورته راولاړه کړم خو له کله نه چې دده کور ته راغلې یم د روزی دروازې راپسې ترلې شوې دي په سپوره ډوډۍ نه یو مړه او چې کله څوک را ښاندې مهربانه شي او څه راوړي نو هغه د اختر ورځ وي تر ډېرې مودې خو زما د کور (جهېز) په لوښو او کالیو چلېدو چې بازار ته به یې وړل او د هغو په پلورلو به یې څه ان، رابود کاوه اوس خو مې کور هم ډگری شو دده وایي وتلی، پښې یې او زړه غځولي ستونی ستاغ پروت او سپینې سترگې یې د خونې چت ته نیولې وي ته به وایې په روغه ستیه سیلوی ځنې وزی څو ځلې مې ورته ویلي چې سر په ولاړ شه چېرې کار پیدا کړه ته خو د لیک لوست خاوند یې شاعر او ادیب یې مگر دده کالبوت شته او اروایې تللي ده سپوږ یې له خولې نه وزي گوره حاکم صاحب! په اخرت کې به زما لاس او ستا گرېوان وي اخر زه اکر به څه وکړم، خدایه «ج» زه خو دې له لوږې مړه وای درې کلن ماشوم زوی مې د نه خوړو په رنځ اخته دی رنگ یې لکه پلالتک ژېړ دی نږدې دی چې نن سبا له نه خوړو ومري.

حاکم چې د ښځې حال ولید او خبرې یې واورېدې، ډېر خواشینی شو نو یې سړلاسی سړي ته مخ وروارواوه او په قهر کې یې ورته وویل: وارستادی سمې خبرې وکړه او رښتیا ووایه کنه نو زه د داسې مکرجنو څېر وپه کار ډېر ښه پوهېږم او ډېر ژر به دې د بندیخانې مېلمه کړم مهال دی لنډ دی وایه ژر وایه، سړي له لږ ځنډ وروسته لکه چې څوک جنگ ته ځان تیاروي په خبرو پیل وکړ چې حاکم صاحبه د خدای «ج» له پاره خبرې ته مې غوږ شه راته حیران به شې او کیدای شې چې راته وخاندې او هم راته وژاړې: زه یو داسې سړی یم چې زما په غوره صفاتو کې شک نشته زما د زوکړې ځای (سروج) دی او د (غسان) په قبیلې پورې تړلی یم. دنده او شغل مې لیک او لوست دی او پانگه مې په جادوگر او محیر العقول انداز کې شعر، خطابه، نظم او نثر دی، زه چې د فصاحت په دریاب کې غوپه وکړم له تله یې ملغلرې را باسم. خبرې او کلام مې خوږه مېوه ده زما همزولي د سون لرگي راټولوي او زه له الفاظو ځخه داسې ځلانده ستوري جوړوم چې پورته خېژي او خلک لاره پرې وینې یو وخت به ما ته انعامونه او تحفې راستول کېدې مگر ما به چرت هم نه پکې واهه زه زرگر نه خو د زړو توتې راسره نشته نن داسې ورځ ده چې څوک ادب ته زړه نه وروړي نن په بازار کې ادب هغه توکی دی چې څوک یې وړیا نه اخلي او مشتري نه لري خپل او خپلوان خپل چاري دي چاته مخ نه وراړوي ځکه نو زما عقل او دماغ د زمانې پېښو داسې کلابند کړي چې نه ورته پوهېږم دا څه عجیب او نادر حالات دي دا اسمان څرنگه په کینږ پلو څرخېږي د خدای له پاره د مال نشتوالي مې زړه داسې پړسولی چې نږدې دی پر ک وچوي، خدایه پاکه! ماته خو یوازې دا هم بس و چې له ناچارې مې د خپلې ماندینې کور (جهېز) د شپو شپو له نهارۍ وروسته په بازار کې په ارزانه وپلورل، خپل شرافت، غیرت او مېړانه بل پلوراته سور اوړدی خدایه! له دې حاله خو مې مرگ پرده دی دا څه راوشوه او لا څه به راکېږي حاکم صاحب! دا راسره ومنه چې دا پنځه ورځې مې کېږي وډی نه ده خوړلې کولمې مې په گېډه پورې سرېښ دي اوس خو کاشکې پور را پیدا شوې وای پور وړی دی وای ما خو په خپل ژوند کې له هیچا سره تېگماری نه ده کړې نو اوس به یې ولې د خپلې ښځې سره کووم او اوس زه د څه عذر او پلمه وکړم له ما سره خو اوس هم څه نشته او سبا به یې له چارابود کړم له ما سره یو خپل روان او تېز نوکی قلم دی هغه د چا په کار نه دی خدایه! برباد شوم، لوټ شوم، څه شو هغه زما قدر او عزت او څه شوې هغه زما هلې ځلې او زما هاغه رنگین خیال!

حاکم یې پاک لېونی کړ او ډېر یې وژړل او بیا یې ښځې ته مخ وروارواوه چې خواره مشې ماته تاسې دواړه صادقان او رښتوني ښکاره شوی. تاسو دواړه صبر وکړئ زه خو تاسو دواړو وژړولم دغه یو خورجین روپۍ در سره واخلئ او گذاره وربانده وکړئ. حارث بن همام وایي چې ما په هماغه اول مهال دا سړی وپېژانده چې دا ابوزید نامتو ادیب دی مگر څه مې نه ویل کله چې دوی دواړه روان شول نو حاکم ته مې ابله دومره وویل چې څوک دې ورپسې لېږلې وای چې دوی څرنگه شول حاکم یو سړی ورپسې واستاوه لږ مهال وروسته سړي په ځغاستو ځغاستو راغی حاکم ورته وویل څه دې ولیدل راته وایه هغه وویل کله چې سړی او ښځه له دې ځایه ووتل نو بهر یې په ډېر که خوله سره خندل او سړي خو په زوره زوره ویل چې د سکندریې د حاکم دې کور ودان وي دغې ژبه وري خو نږدې بندیخانې ته لېږلي وم. حاکم ډېر وخندل کله چې د هغه رعب څه نا څه مات شو نو ما ورته وویل چې حاکم صاحب دا سړی ابو زید نامتو ادیب وه څه اړتیا پسې راالخستې وه او دلته یې چې د خیرات د روپیو ستره ډېری ولیده نو غوښتل یې چې ستره ونډه ورته یوسي تاهم همداسې وکړل حاکم نور هم خوښ شو او بیا یې لاسونه پورته کړل او دعا په ترڅ کې یې وویل: خدایه! دومره مې مه په غصه او بیا که کوې چې ابوزید غوندې غوره ادیب بندیخانې ته ولېږم.

د اصحابو د ژوند پلوشې

لیکوال: دکتور عبدالرحمن رافت باشا | ژباړن: بشار | ۵

طفیل وویل: بیا زه په مکه کې، رسول الله «ص» ته ورغلم او دا په داسې حال کې چې ابو هریره هم له ما سره ملگری و نو پیغمبر «ص» راته وویل: ما ورآ ـ ک یا طفیل؟ ای طفیله! ستا تر شا څه دي؟

ما وویل: زړونه دي چې پردې وربانده پرتې دي او سخت کفر دی او سرکښي او گناه په دوس باندې غلبه کړېده. بیا رسول الله «ص» پاسید، اودس یې وکړ بیا یې لمونځ وکړ، او خپل دواړه لاسونه یې د اسمان په لوري پورته کړل په دغه وخت کې ابوهریره وویل: کله چې ما هغه په دغه شان او حالت کې ولید نو زه وویرېدم نه چې زما قوم ته ښېرې وکړي، او هغوی هلاک شي.

نو ما وویل: ای زما قومه! مگر رسول الله «ص» دا وویل: اللهم اهد دوساً... اللهم اهددوساً... اللهم اهد دوساً...

ای خدایه! دوس ته هدایت وکړه... ای خدایه! دوس ته هدایت وکړه... ای خدایه! دوس ته هدایت وکړه...

بیا یې طفیل ته وکتل او ورته یې وویل: «ارجع الی قومه، وارفق بهم، وادعهم الی الاسلام»

خپل قوم ته دې ستون شه، هغوی سره نرمي وکړه، او هغوی اسلام ته راوبوله.

طفیل وویل: څو چې د دوس په ځمکه وم هغوی ته مې د اسلام بلنه ورکوله تر هغه چې رسول الله «ص» مدینې ته هجرت وکړ. بیا چې د بدر، احد او خندق غزاگانې تېرې شوې رسول الله «ص» ته د دوس د اتیاو کورنیو سره لاړم، دغو کورنیو اسلام ومانه او سوچه مسلمانانې شولې، په دې سره رسول الله «ص» له موږ څخه ډېر خوشحال شو، او د خیبر په غنیمتونو کې یې د نورو مسلمانانو سره موږ ته هم برخې راکړې نو موږ وویل: ای د خدای رسوله! موږ په هره غزا کې خپلې ښې خواته کړه، او زموږ شعار «مبرور» وگرځوه.

طفیل وویل: بیا زه تل د رسول الله «ص» سره وم تر هغه چې خدای د هغه په لاس مکه فتحه کړه نو ما وویل: ای د خدای رسوله! ما د عمرو بن حممة بت ته چې ـ ذوالکفین ـ دی واستوه څو هغه وسېزم، رسول الله «ص» ورته اجازه وکړه، او بیا هغه د څو تنو سره د دغه بت په لوري روان شو. کله چې هغه بت ته ورسید، او د هغه د سوځولو قصد یې وکړ د هغه په شا او خوا کې ښځې سړي او کوچنیان راټول شول، او دا په دې غرض چې گوندې هغه ته به بت د ضرر رسولو په وخت څه شر پېښ کړي مگر طفیل د حاضرو کسانو په مخ کې بت ته ورنږدې شو، او د هغه په زړه کې یې اور بل کړ، او اسې یې وویل:

یا ذالکفین لست من عبادکا

میلاد نا اقدم من میلادکا

إنی حشوت النار فی فوادکا

ای ذوالکفینه! زه ستا له عبادت کوونکو څخه نه یم.

زما میلاد ستا له میلاد څخه مخکې دی.

ما ستا په زړه کې اور بل کړ،

د بت په سوځېدلو سره د دوس په قبیله کې، شرک هم وسوځید، او ټول قوم اسلام ومانه، او د هغوی په زړونو او رگونو کې د اسلام ریښې وغځېدلې.

بیا طفیل د رسول الله «ص» سره گډ ژوند غوره کړ تر هغه چې الهي پیغمبر وفات شو، او د خپل خدای حضور ته ورغی.

کله چې خلافت د الهي پیغمبر څخه وروسته د هغه ملگري ابو بکر الصدیق ته تکیه وکړه طفیل خپل ځان، خپله توره، او خپل زوی عمرو یې د رسول الله د خلیفه په طاعت کې وگرځول.

کله چې د مرتدینو سره جنگونه پیل شول، طفیل هم د اسلام په لښکر کې د مسلیمة الکذاب د جنگ لپاره ووت، او عمرو زوی یې هم ورسره شو. کوم وخت چې طفیل د یمامه په لوري په لاره کې و خوب یې ولید، او خپلو ملگرو ته یې وویل: ما خوب ولید او ماته د هغه معنی ووایی.

ملگرو وویل: تا څه ولیدل؟ هغه ویل: ما ولیدل چې زما سر خرېل شوی دی، او یوه مرغۍ زما له خولې ووتله، او ښځې پخپلې گېډې کې ننوستلم او زما زوی زما په لټه کې شو ولې زما او د هغه په منځکې مانع پیدا شو.

هغو وویل: خیر دې وي. هغه وویل: په خدای سوگند، ما د خپل خوب معنی داسې کړې ده. هغه چې د سرخرېل دی معنی یې دا ده چې زما سر به پرې کېږي، او هغه چې زما له خولې مرغۍ ووتله معنی یې دا ده چې زما روح به وځي، او دا چې ښځې په خپلې گېډې کې ننوستلم معنی یې دا ده چې په ځمکه کې به راته قبر وویستل شي، او زه به په کې خښ کړ شم او زه هیله کوم شهید ومرم، او هغه چې ما پسې د خپل زوی پلټنه ده معنی یې دا ده چې هغه د شهادت غوښتنه کوي ولې هغه به له ما څخه وروسته شهید شي.

طفیل د یمامه په جنگ کې لویه مېړانه وښودله تر دې چې د جنگ په میدان کې شهید پرېوت مگر د هغه زوی عمرو لا په جنگ کې و چې بیا زخم ناتوان کړ، او ښي لاس یې پرېکړ شو او بیا مدینې ته ستون شو او خپل پلار او خپل لاس یې د یمامه په ځمکه کې پرېښودل.

بیا څه موده وروسته عمرو بن الطفیل، عمر بن الخطاب خلیفه ته ورغی، او بیا چې د حضرت فاروق په مخکې ډوډۍ کېښود له شوه او خلک د هغه سره ناست و خلیفه خلکو ته د ډوډۍ خوړلو بلنه ورکړه مگر عمرو د خوړاک څخه ځان گوښه کړ نو فاروق ورته وویل: څه دې تاته، گوندې د لاس له شرمه گوښه شوی؟! هغه وویل هو، أمیر المؤمنینه!

فاروق وویل: په خدای سوگند، څو چې دغه طعام پخپل پرې شوي لاس گډ نکړې زه به هغه ونه خورم. په خدای سوگند، په قوم کې داسې څوک نشته چې د هغه د ځان، ځنې برخه په جنت کې نه وي مگر هغه ته یې. فاروق په دې توگه د هغه لاس ته اشاره کوله.

خدای دې پر طفیل بن عمرو الدوسي ورحمېږي هغه شهید او د شهید پلار دی. **پاتې لري**

د برېښنا مؤسسې عمومي رئیس محترم...

بوخت یو.

شریعت: قدرمنو لوستونکو! زموږ خبریال د برېښنا مؤسسې له عمومي رئیس محترم مولوي محمد خان حقاني سره دده د کار په دفتر کې په هېواد کې د برېښنا د تاسیساتو او شبکو د اوسنی حالت د څرنگوالي او راتلونکو پلانونو په هکله یوه مرکه کړې چې رپوټ یې ستاسو پام ته گرځوو.

په پیل کې محترم مولوي محمد خان حقاني داسې وویل: زموږ پراختیایي پلانونه له مالي امکاناتو سره سم پر مخ روان دي. همدا اوس موږ د کابل ښار د شبکو او ستېشنونو د تنظیم په کار پیل کړی چې د ختیځ په سب ستېشن او د لوېدیځ په څلورم او اتم لمبر جنگشنونو باندې په پوره چټکتیا سره کار روان دی. البته د نوموړو ستېشنونو د کار په بشپړېدو سره به انشاء الله په پلچرخي کې د صنعتي پارکونو سیمه د هودخیلو سیمه د څرخي پله ځینې سیمې، د بگرامیو د اوبو پمپ ستېشنونه، د قرغې او د قمبر د څلور لارې ځینې سیمې، حربي ښوونځی، علي آباد روغتون، دارالمعلمین او دده بوریو سیمې د برېښنا له نعمت نه برخمنې شي.

دې زیاتوي: د برېښنا د انرژۍ تولید د هېواد په ډېرو سیمو کې د سپېدونو په اوبو پورې اړه لري د اوبو کموالي خامخا د برېښنا په تولید باندې منفي اغېزه اچوي.

نوموړي زیاته کړه: د هرات ولایت د برېښنا د شبکو کار هم څه موده وړاندې پیل شوی البته د لوړ ولتاژ د مزیو او سب ستېشن تجهیزات بشپړ شوي او د منتاژ کار به یې انشاء الله ډېر ژر پیل شي.

په پای کې محترم مولوي محمد خان حقاني زیاته کړه: په هغو سیمو کې چې د مایکروهایدرو پاور د دستگاه د نصبولو امکانات موجود وي هلته به اقدام کېږي. البته په دې هکله مونږ له ځینو بهرنیو کمپنیو سره اړیکې ټینگې کړې او همدا اوس یې تخنیکي اسناد تر غور او څېړنې لاندې دي زموږ په هېواد کې ډېرې داسې غرنۍ سیمې شته چې هلته د مایکروهایدل یا Smale Hydropower د دستگاوو د نصبولو امکانات شته که چېرې زموږ هېوادوال په خپل شخصي لگښت د داسې دستگاوو د نصبولو پلان ولري نو د اوبو او برېښنا وزارت به له مقرري سره سم له دوی سره د ډیزاین، ساختمان، مونتاژ او شبکو په برخه کې لازمي مرستې وکړي.

دین نصیحت دی

حدیث شریف

زمونږ مدرسی ځینو اصلاحاتو ته اړتیا لری

په هیواد کی د اسلامی امارت په قیام سره د خدای«ج» فضل دی جوماتونو او دینی مدرسو ته ډیره پاملرنه شوی ده خو له دی سره سره لکه چی په هر کار کی خامخا یو څه نیمګړتیاوی منځ ته راځی، ددغو دینی مدرسو په انتظام او اداره کی هم یو لړ مشکلات شته دا چی د ستونزو رامنځ ته کیدل یوه طبیعی خبره ده او هیڅوک هم ځان نه شی تری خوندی کولای او نه له دی کبله چاته د ملامتیا ګوته نیول کیږی خو مهم او د ملامتیا وړ پلو یی دا دی چی سړی ددغو مشکلاتو سره د مبارزی او د هغو د حل نه ځان غافل او یا پکی لټی او بی پروایی وکړ ی.

زمونږ په نظر په دی هکله مهمی نیمګړتیاوی دا دی :

۱- په مرکز او ولایاتو کی یو زیات شمیر دینی لیلیه مدرسی جوړی شوی او د هغو د مسؤلینو له خوا اوروده -اوروده لستونه برابر شوی چی هره میاشت په میلیاردونو افغانی لګښت لری په زیاترو ځایو کی لیدل شوی چی نوموړی شمیر ډیر زیات خو په حقیقت کی طالبان ډیر کم وی نو د امارت اوسنیو مالی ستونزو ته په پاملرنه ښایی په دی هکله ژوره څیړنه او د جعل کاری مخه ونیول شی.

۲- ښه به دا وی چی د هیواد روان حالات په نظر کی ونیول شی او د لیلیه مدرسو د جملی نه د هغو لیلیه قطع شی، کومی چی په کلیو کی موقعیت لری او کومی پیسی چی له دی لاری راوسپمیږی په عمومی ډول دټولو مدرسو د استادانو په معاش دی ورواچول شی ، تر څو هغوی په ښه توګه خپلو دندو ته دوام ورکړی شی.

۳- درسی وسایل چی په ښوونه او روزنه کی خورا غټ رول او ارزښت لری باید د استادانو توجه ورته راوګرځول شی او مسؤلین هم د تختی ، کتابونو، کتابچو او قلمونو په برابرولو کی تر خپلی وسی مرسته او ملګرتیا وکړی.

٤- جوړ شوي درسی نصاب دی د تجربه کارو استادانو او د تعلیم او تربیی د ماهرینو په مشوره د وخت او ټولنیز چاپیریال د غوښتنو سره سم پلی شی ځکه همدا درسی نصابونه دی چی زمونږ د نوی کهول په مهارت او ښه روزنه کی ژوری اغیزی لری نو په کار ده چی په دی هکله خپل پور ادا کړو.

٥- بوه بله نیمګړتیا د تخصصی څانګو نشتوالی دی دا هم ډیره مهمه ده ځکه اوس زمونږ طالبان آن تر دولسم ټولګی پوری ګډوډ یوزیات شمیر مضامین لولی چی یو یی هم په ښه ډول نه وی زده نو په کار ده چی د لسم ټولګی نه ځانګړی څانګی سره بیلی او طلابو ته د خپل رغبت او استعداد سره سم وخت ورکړی شی.

پروسه عودت مهاجرین...

محمد صدیق اخند زاده معین وزارت شهدا و مهاجرین که اخیراً در راس یك هیئت عازم آنولایت گردیده است پیرامون عودت مهاجرین از کشور ایران بوطن و رفع مشکلات آنها بحث و تبادل نظر نموده و در زمینه تصامیم لازم اتحاذ گردید.

در ترکیب هیأت اعزامی وزارت شهدا و مهاجرین محترم مولوي محمد حلیم رئیس پلان و محترم قاري عبدالحمید رئیس مهاجرین وزارت شهدا و مهاجرین شامل میباشند.

سیزدهمین کانگرس ...

. درین کنفرانس که در شهر دوربان افریقاي جنوبي دایر گردیده بود سیاستمداران، طبیبان و تعدادي از مبتلایان ایدز اشتراك نموده بودند.

در کنفرانس در باره جستجوي طرق موثر و همه جانبه مبارزه با این بیماري کشنده تاکید بعمل آمده و براي کاهش و جلوگیري از توسعه این مصیبت بزرگ اقدامات بین المللي تقاضا گردیده است.

ایدز در کشور هاي ...

متحده امریکا انجام یافته است نشان میدهد که توسعه بیماري ایدز در کشور هاي رویه انکشاف ظرف ده سال آینده بیش از سي ملیون نفر از اطفال و نوجوانان حد اقل یکي از والدین خود را از دست خواهند داد همچنین این بررسي حکایت از آن دارد که مصیبت ناشي از شیوع بیماري ایدز به مراتب از مرگ و میر جلو تر میرود.

ایدز یك بیماري عالمگیر بوده و بخصوص در کشور هاي رویه انکشاف موجب بي ثباتي میشود.

قبل از انتشار این بررسي صندوق و جهي اطفال سازمان ملل متحد طي گزارشي از کشور هاي جهان خواسته بود براي رهایي از چنگال بیماري مرگ بار ایدز به مبارزه علیه این بیماري آغاز کنند.

تجار ملي کشور ...

صحبت هاي شان و عده سپردند که در قسمت تورید مواد اولیه مورد ضرورت هموطنان و همچنان در جهت بازار یابي براي اقلام صادراتي و تقویه بنیه اقتصادي کشور سعي و تلاش همه جانبه خواهند نمود.

د ګردیز راډیو ...

خلکو د دښمنانو درواغ او توطیی بربنډوی .

دغه تکی د ګردیز د شریعت غږ راډیو آمر محترم مولوی جانان مفکر په جنوب زون کی د باختر د اطلاعاتی آژانس له خبریال سره د یوی مرکی په ترځ کی څرګند او زیاته یی کړه :

د ګردیز د شریعت غږ راډیو له پنځه کلن څنه وروسته په هیواد کی د اسلامی امارت د واکمنی په ټینګښت سره بیا فعاله شوی ده او د دینی ذوقی اقتصادی روزنیزو او خبری اختصاصی مطالبو او پروګرامونو په خپرولو سره یی وکولای شول چی د خلکو د ذهنونو په رښانه کولو او د تریوالو په پیښو او حقایقو په منعکس کولو کی ستر او اساسی رول ولوبوی.

د ګردیز شریعت غږ راډیو د روان کال په بهیر کی د دینی پوښتنو او نورو په ګڼون تړدی یو زرو شپږ سوه پنځوسو رسیدلو لیکونو ته ځواب ویلی او په دی ترتیب یی له خلکو سره خپلی اړیکی تأمین کړی . د ګردیز د شریعت غږ راډیو آمر زیاته کړه زموږ د راډیو اختصاصی پروګرامونه معارف الحدیث د ژغورنی لاره لیکونو ته ځواب کرنه او مالداری ښوونه او روزنه تاسی او ستاسو روغتیا خبری او خاطری فرمایشی ترانی او ځانګړی اصلاحی او اقتصادی پروګرامونه دی. په پام کی دی چی په نږدی راتلونکی کی د ماشومانو ځانګړی پروګرام هم د راډیو په خپرونو کی شامل شی.

فاسیو صهیونیستانو ...

دغه قانون یوه احمد طیبی وویل دغه موافقه د کمپ ډیوید په غونډو کی د ګډون لپاره واشنګټن ته د اسرائیلو او فلسطینیانو د استازو له روانیدو مخکی تر لاسه شوی ده .

ده د خپلو اطلاعاتو سر چینه افشا نکړه خو ویلی یی دی چی دغه خبر د یوه لوړ مقام له خوا د ده په واک کی ورکړ شوی دی په عین حال کی د اسوشیتد پرس خبری آژانس د یوه اسرائیلی مقام له خولی د دغه موافقه د رواغ بللی ده .

د اردن د سینډ په لویدیځو غاړو او د غزی په ناوه کی د یهودیانو د استوګنی د ښارګوټو برخلیک د فلسطینیانو او اسرائیلو تر منځ د سولی د هغو خبرو په اجنډا کی یوه مهمه مسئله ده چی همدا اوس د امریکا د متحده ایالاتو په کمپ ډیوید کی دوام لری.

غلور تنه ...

هڅو او هاند له امله وروسته ورځ څلور تنه شوکماران هر یو جی خان د روښان زوی اسد الله د سر تور زوی محراب د جان محمد زوی او دین محمد د خیر الدین زوی چی په غلچکی سره یی د ناور ولسوالی او غزنی ولایت د لاری په اوږدو کی د مسافرانو او د موټرو د چلوونکو مالونه لوټول د غزنی ولایت د استخباراتو ریاست د ویبو منسوبینو له خوا لاس په لاس ونیول شول او د قانون منګولو ته وسپارل شول.

سیزده ملیارد ...

مقام وزارت زراعت و مالداري و سایر بخش هاي مربوطه مطابق پلان مطروحه ترمیم و باز سازي گردیده است. منبع مي افزاید :

تعمیر ریاست تشخیص امراض حیواني که در سطح آسیا دومین مرکز تشخیص امراض حیواني بود مجدداً باز سازي گردیده و با امکانات ابتدایي و جلب کمکهاي موسسات خیریه بین المللي همین اکنون ۲۳۰ کلینیك به سطح ولسوالي هاي کشور فعالیت خدمات زراعتي و مالداري داشته و موسسه جرمن اگرو اکشن در احیاي فارم تحقیقاتي بادام باغ با وزارت زراعت و مالداري همکاري نموده است.

منبع تاکید داشت که ترمیم باز سازي وفعال ساختن تعداد کثیري از تاسیسات و پروژه هاي زراعتي و مالداري افغانستان مستلزم کمکهاي کشور هاي دوست و سازمان ها و موسسات خیریه بین المللي بوده و میتواند با استفاده از شرایط آرام فعلي مردم افغانستان را که از اثرات خشکسالي نیز متضرر گردیده اند از طریق ایجاد پروژه هاي عام المنفعه کمك نمایند.

ایالات متحده امریکا و ...

کشور هموار میکند.

به موجب این توافق که تا هنوز به تصویب کانگرس امریکا نرسیده، است ویتنام بر طرف کردن بسیاري از موانع در راه ورود کالا ها و خدمات امریکایي موافقت کرده و در عوض از مزایاي عادي تجارتي با امریکا بهره مند خواهد شد.

توافق عادي ساختن روابط تجارتي یاد شده پس از چهار سال مذاکره و بیست و پنج سال بعد از ختم جنگ ویتنام حاصل شده است .

درگیریهاي شدید ...

که میان قوماندان حضرت و قوماندان قاري محمد خان دو تن از قوماندانان مخالفین در دره بنگي ولایت تخار به وقوع پیوسته است به وضاحت میرساند که اکثریت قوماندانان مخالفین اکنون به اهداف و خواسته هاي نا مشروع به اصطلاح رهبران مخالفین پي برده در تلاش بر امده اند که نخست افراد و قوماندانان وفادار به آنان را تضعیف و از میان بردارند.

به قول شاهدان عیني این درگیریها بعد از اجلاس قوماندانان نا راضي از مسعود در منطقه بورکه و اشکمش که به رهبري قوماندان داکترتاج محمد تدویر یافته بود قوت گرفته است.

منبع مي افزاید : در اثر درگیریهاي تازه در دره بنگي ولایت تخار یازده تن از افراد طرفین کشته و یا زخمي گردیده اند و همچنان خسارات شدید مالي و جاني متوجه اهالي بیگناه و ملکي آن منطقه گردیده است.

قرار گزارشات واصله این درگیریها همچنان به قوت ادامه داشته و روز تا روز ابعاد و وسعت تازه بخود کسب میکند.

حملات وحشیانه روسها...

طبق خبر مذکور مجاهدین مسلمان جمهوري چیچن درین اواخر طریق جنگ هاي پراگنده علیه قواي متجاوز روسیه را در پیش گرفت و این امر باعث تشدید عملیات نظامي روسیه شده است.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

ټولو خلکو په دې اعتراف کاوه چې اوس ...

اکثراً خلکو به زما د تمی په خلاف ویل چی نه طالبان ښه خلک دی.

مایک هویر وایی چی زما د ټولو خبرو معنی دا نه ده چی طالبان توند نه دی او یا دا چی په خلکو باندی سختی نه راولی. دی وایی : په ځینو مسائلو کی طالبان ښه توند ځی او سخت دسپلین لری او هغه په ټولو باندی په یو رنګ تطبیقوی او همدا وجه ده چی سوله او امن یی هم راوستی.

مایک هویر وایی : بله خبره چی زما خوښه شوه دا وه چی په افغانستان کی اوس تشریفات نه شته ، هرڅوک کولی شی چی د وزیرانو سره وګوري او خپل عرایض ورته وړاندی کړی .

دی وایی : هغه وزیران چی ده ولیدل داسی نه ښکاریدل لکه وزیران چی وی او یوی خبری چی ډیر حیران کړم دا وه چی وزیرانو به داسی جامی اغوستی چی نور خلک یی اغوندی او د ځینو به لا جامی او بوټونه دومره زاړه و چی د عادی خلکو نه به یی چندانی فرق هم نه کیده .

مایک هویر وایی : یو شی چی زه یی ډیر حوړولم د افغانستان د خلکو غربت او بیچاره ګی وه او دغه غربت په تیره د هغو بندیزونو له امله لا پسی زیات شوی چی ملګرو ملتونو لګولی دی.

مایک هویر وایی : خو خلک ددی بندیزونو په باره کی دومره په قهر نه و لکه زه به چی وم؛ ځکه چی دا بندیزونه بی معنی دی ګټه نه کوی ، تاوان یی ډیر دی، که زه افغان وای نو ډیر به په قهر وای خو افغانان دومره په قهر نه دی ؛ خو ویږی مګر ځان نه پوهوی او وایی چی خدای«ج» به دا ورځ هم پری تیره کړی.

مایک هویر وایی : دده هیله دا ده چی نه یوازی د امریکا بلکی د نړی د نورو هیوادونو خبریالان او رسمی مامورین په خلاص زړه افغانستان ته لاړ شی او وضع په خپلو سترګو وګوری، وبی څیری او د نورو خلکو په تیره بیا د غرضی خلکو په خبرونو ونه غولیږی. دی وایی که چیری دغه کار وشی دی یقین لری چی بندیزونه به لری شی او د افغانستان او طالبانو سره به د مقابلی په ځای د ملګرتیا لاره ونیول شی.

مایک هویر زیاتوی : د طالبانو هدف دا دی چی د ټولو ګاونډیانو ، ټولو هیوادو سره ملګری شی هغوی وایی غواړی چی تیر په تیر او هیر په هیر کړی ، په تیرو جنجالونو کی ځان راګیر نه کړی بلکی راتلونکی ته وګوری ، هغوی جنګ او دښمنی نه غواړی ، او دا خبره هم چی ګنی هغوی د تروریزم ملاتړ کوی ډیره بی معنی ده هغوی فقط غواړی چی خپل وران ویجاړ وطن او خپل کور جوړ کړی خپلو ، بچو ته تعلیم او ډوډی پیدا کړی مګر څوک یی په کراره نه پریږدی.

امریکایی خبریال مایک هویر وایی چی : بهرنی خبریال هم ډیر ګرم په دی نه دی چی افغانستان او افغانان سم نه پیژنی ، د یوی یادوو ورځو لپاره افغانستان ته لاړ شی او څه چی اوری یا وینی هغه لیکی او دی کې خو شک نشته چی په افغانستان کی غربت د جنګ تباهی او نیستی دا ټول شیان ډیر زیات دی.

مایک هویر وایی چی : ځینو خبریالانو بی خبری دومره ډیره ده چی په کابل کی کومه تباهی چی تنظیمی جګړو او جګړه مارانو راوستی ده د هغی مسوول طالبان بولی او د نړی عام خلک چی هغوی هم بی خبره دی پری باور کوی.

فابریکه نساجي قندهار ...

سرمایه بیست ملیون دالر در سال ۱۳۵۵ تاسیس و داراي یکهزار و دو صد پایه ماشین هاي بافت رنگ آمیزي و تاپه کاري میباشد ظرفیت تولیدي آن در سال چهل ملیون متر پارچه سندي و نخي بوده و میتواند به تعداد شش هزار نفر کارگر را جلب و جذب نماید.

منبع گفت فابریکه متذکره به اساس قرار دادیکه بین وزارت معادن و صنایع و محترم محمد هاشم توفیقي یکتن از تجار ملي و شخصیت هاي با احساس کشور به امضا رسیده در ظرف ده ماه آینده احیا میگردد به اساس همین قرار داد محترم محمد هاشم توفیقي در این فابریکه مبلغ ١٦ الی ۲۰ ملیون دالر سرمایه گذاري مي نماید این قرار داد براي پنج سال مورد اعتبار بوده که طي همین مدت جمعاً سي وسه لك دالر به وزارت معادن و صنایع از مدرك اجاره فابریکه متذکره توسط محترم توفیقي پرداخته میشود.

پاملرنه

درنو ګډون کوونکو!

که چیری د شریعت اوونیزه په ټاکلی وخت نه در رسیږی او یا هم هیڅ نه در رسیږی نو د معلوماتو لپاره په ٦۲۸٥۹ او ۲۱۳۸۱ شمیره ټیلفونی تماس ونیسی.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirate's Printing Press